## اجرايي لنډيز

په افغانستان کې د وسله والې جګړې د شدت او خپريدنې سره په ۲۰۰۹ کې د ملکي تلفاتو اندازه زياته شوې ده. په ۲۰۰۹ کال کې نږدې ۵۹۷۸ ملکي وګړي يا خو وژل شوي او يا هم ټپيان شويدی چې دا په ۲۰۰۱ کې د طالبانو د رژيم د راپرزيدو وروسته ډيره لوړه شميره ده. د هيواد په جنوبي برخو کې چيرته چې جګړه ډيره شديه ده ډير زيات کسان اغيزمن شوي دي. د ټولو ملکي تلفاتو نږدې نيمايي چې 45 سلنه کيږي په جنوبي سيمه کې ترسره شوي دي. د تلفاتو لوړې شميرې همدارنګه په جنوب ختيځو برخو کې (۱۵ سلنه)، ختيځو برخو کې (۱۰ سلنه)، مرکزي سيمو کې (12 سلينه) او لويديځو سيمو کې (۸ سلينه) منځته راغلي دي. په پخوانيو ټيکاو لرونکو سيمو لکه شمال ختيځ کې هم نا امنۍ راغلي چې دلته د کندز د ولايت يادونه کولای شو. د ملکی تلفاتو د شميرې د زياتوالی سره سره جګړه ځپلي وګړي د خپل معيشت له لاسه ورکولو، بې ځايه کيدنو او د هغوی د ملکيت او شخصي شتمنيو د تخريب او ويجاړتيا سره هم مخ شوي دي.

د يوناما د بشري حقونو څانګې د ۲۰۰۹ کال د جنوری د لومړۍ نيټې څخه د دسمبر د مياشتې تر ۳۱ پورې ټولټال ۲۴۱۲ ملکی مړينې چې رامنځته شوي دي ثبت کړي دي. دغه ارقام د هغو شميرو په پرتله ۱۴ سلينه زياتوالی ښي چې په ۲۰۰۸ کې ثبت شوي دي، ۱۶۳۰ (۶۷ ٪) يې هغه وژنې دي چې د دولت ضد عناصرو له خوا رامنځ ته شوی دي او نوری ۵۹۶ (۲۵ ٪) يې دولت پلوه ځلواکونو ته منسوب تلفات دي. پاتې ۱۸۶ مړينې (۸ ٪) په جګړه کې د اخته اړخونو په يوه خوا پورې هم نه دي منسوب، ځکه چې ځينې ملکي وګړي د متقابلو ډزو له امله او يا هم د نا چاودو مهماتو له کبله وژل شوي دي.

د دولت ضد عناصر د ملکي تلفاتود زياتې برخې د مړينو مسووليت په غاړه لري. د ملکي وګړو مړينې چې د راپورونو له مخې د مخالف وسله وال لوري له خوا ترسره شوي دي، د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو ترمنځ يې 41 سلنه زياتوالی موندلی دی، چې د ۱۱۶۰ څخه تر ۱۶۳۰ تنو پورې رسيږي. هغه مړينې چې د شورشيانو د اړوندو فعاليتونو په نتيجه کې رامنځته شوي دي په ۲۰۰۹ کې يې تناسب د دولت پلوه ځواکونو له خوا د رامنځته شويو تلفاتو په پرتله نږدې يو پر درې ته رسيده. ۱۰۵۴ تنه ملکي وګړي د ځانمرګو بريدونو او د نورو تعبيه شويو چاوديدونکو مهماتو د بريدونو په پايله کې چې د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوي دي، رامنځته شوي دي او ۲۲۵ هغه قربانيان دي چې د قتلونو او وژنو هدف ګرځيدلی دي. دا هغه اکثريت تلفات دي چې د دولت ضد عناصرود فعاليتونو په نتيجه کې راغلي دي او د ټولې شميرې څخه ۵۳ سلنه د ۲۰۰۹ د ملکي تلفاتو جوړوي. ټول سره يو ځای د دغو تاکتيکونو له امله د وژنو شميره ۷۸ سلنه د غير جنګي وګړو د مړينې جوړوي چې په وسله وال اپوزيسيون پورې تړاو لري د دغو ټولو تلفاتو شميره چې د دولت ضد عناصرو د فعاليتونو په نتيجه کې رامنځته شوي دي په ابتدايي ډول د راکټونو د بريدونو او د ځمکنيو ښتو په وجه ده چې په دې کې ملکی ننداره چيان او يا ولاړ کسان نيغ په نيغ اغيزمن شوي دي.

ځانمرګو بریدونو د نوروهر ډول تاکتیکونو په پرتله زیات تلفات رامنځته کړي  دي، چې ۱۰۵۴ تنه ملکیان یې وژلي دي چې دا په ۲۰۰۹ کې د ټولو ملکي وژنو ۴۴ سلنه جوړوي. که څه هم په دغه ډول بریدونو کې په لومړی پړاو کې دولتی او یا هم نړیوال وسله وال ځواکونه تر هدف لاندې راغلي دي، هغه اکثره وخت په داسې ځایونو کې ترسره شوي دي چې په کې ملکي وګړي زیات تیریږي راتیریږي او یا اوسیږي. ملکي وګړي همدارنګه په قصدي او عمدي توګه د وژنو، اختطافونو او اعدامونو لاندې راغلي دي چې که په هغوي د دولت او یا هم د نړیوالې ټولنې سره د تړاو ګومان  او شک شوی دی، په پراخه پیمانه ملکي وګړي چې په کې د ټولنو مشران، پخواني نظامي افسران، ډاکټران، ښوونکي او د ساختماني چارو کارکوونکي شامل دي  تر بریدونو لاندې راغلي دي. نور فعالین لکه ملګري ملتونه اوغیر دولتي موسسې هم تر هدف او برید لاندې راغلي  دي، زیاتره وخت ورته ګواښونه متوجه شوي دي او په ځینو حالاتو کې د تیري او خشونت قربانیان دي. د دغو کړنو او اقداماتو د لارې وسله وال اپوزیسیون په زیاته اندازه د ملکي وګړو د مصیبتونو او ناورینونو په پام کې نه  نیولو څرګندونه کوي.

د ملکي وګړو سره یو ځای دنظامی برخو مخلوطوالی او اکثره وخت د اوسیدنې د کورونو څخه د پایګاوو او مرکزونو په توګه کار اخیستنې ملکي وګړي د وسله وال اپوزیسیون د بریدونو د خطر سره مخ کړي دي.

حکومت پلوه قوتونه- افغان ملي امنیتي قواووي او نړیوالې  نظامي قواوي- د ۵۹۶ ثبت شویو ملکي وژنو مسوولیت لري. دغه رقم په ۲۰۰۹ کې د ټولو ثبت شویو ملکي تلفاتو ۲۵ ٪ په ډاګه کوي. په دې ډول حکومت پلوه قواوو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې د ۲۰۰۸ په پرتله ۲۸ ٪ کموالی راغلی دی. دغه کموالی هغه اقدامات منعکس کوي چې بین المللي نظامي قوتونو د دې لپاره غوره کړي وو څو په عملیاتو کې د ملکي کسانو لپاره د خطر اندازه کمه شي.

که څه هم مثبت ګامونه اوچت شوي دي، د حکومت پلوه ځواکونو د عملیاتو له امله ملکي وګړي لا اوس هم په خطر کې دي، د یوناما د بشري حقونو څانګې ۳۵۹ ملکي تلفات ثبت کړي دي چې د هوایي بریدونو په ذریعه وژل شوي او د ملکي تلفاتو په جمله کې چې حکومت پلوه ځواکونو ته یې نسبت کیږي 61 %  جوړوي. دغه شمیر د ټولو ملکي تلفاتو چې په ۲۰۰۹ کې د وسله والې جګړې په دوران کې شوې دي ۱۵ ٪ جوړوي. بین المللي نظامی قوتونو او افغان امنیتي ځواکونو دغه راز، یو لړ ځمکنی عملیات ترسره کړي دی  چې په ترڅ کې یې ملکي وګړو ته زیان رسیدلي دي. په دې عملیاتو کې ډیرې پلټنې او نیونې شوې دي، چې په ترڅ کې یې ترحده زیاته قوه په کارول شوې ده ، ملکیتونو ته تاوان رسیدلی او کلتوري حساسیتونو ته ، په تیره بیا د ښځو په وړاندې، پام نه دی شوی.

د یوناما د بشري حقونو څانګه د نظامي اډو له موقعیت څخه اندیښمنه ده خصوصا هغه اډې چې د ملکي وګړو د مشتیدو په سیمه کې او یا هغوي ته نږدې پرتې دي. ملکي خلکو ته د دغو اډو نږدې والی دغه وګړي له زیات خطر سره مخامخ کوي، ځکه نظامي اډې ډیر ځله د وسله واله مخالفو قوتونو د برید هدف ګرځي. ملکي کسان وژل شوی یا ژوبل شوي دي، ځکه چې دوی نظامي اډو ته نږدې پراته وو، د دوي کورونه او ملکیتونه زیانمن شوي او له دې سره دوي د عایداتو او معیشت وسایل له لاسه ورکوي. د نظامي تاسیساتو نږدې والی د ملکی خلکو د میشت سیمو ته د دې لامل هم ګرځي چې د تولنو په منځ کې ویره او بې اعتمادي راپیدا شي او دوي د بین المللي نظامي قواوو څخه بېزاره شي ځکه د جنګ په مابین کې واقع وي او یا په حکومت یا حکومت پلوه نظامي قواوو باندې د حکومت ضد عناصرو د بریدونو په نتیجه کې قرباني شي.

بین المللي نظامي قوتونو په ۲۰۰۹ کې ځیني ستراتیژیک او مشخص ګامونه واخیستل چې د ملکي تلفاتو اندازه راټیټه کړي. د ایساف په قوماندې کې بدلون، د قوماندې ښکاره جوړښت او د تاکتیک په لحاظ نوی لارښووني د ایساف له دې هڅو سره مرسته کړې ده چې په ملکي وګړو باندې د جګړې اغیزې کمې کړي. خو د ملکي تلفاتو د تعقیب څانګه چې په ۲۰۰۸ کې په ایساف (دې ته ورته میکانیزم د امریکایي دمتحده ایالاتو په قواوو کې) کې دومره اغیزمن و نه خوت چې د یوناما اندیښنو ته په هر وخت کې ځواب ووایي. دې ته اړتیا شته چې باید د تعقیب د څانګې د ښه والی لپاره نور ګامونه پورته شي، څو دغه کار د ملکي تلفاتو د پیښو په اړه نور هم ګټور ثابت شي.

دغه راپور چې په افغانستان کې د ۲۰۰۹ کال د ملکي تلفاتو په باره کې تیار شوی دی ، د یوناما د صلاحیت په تعقیب جوړ شوي چې د امنیت شورا د ۱۸۶۸ (۲۰۰۹) پریکړې له مخې ورکړل شوی دی. د یوناما د بشري حقونو څانګه یولړ فعالیتونه په نظر کې لري چې د جګړې اغیزې په ملکي کسانو باندې کمې شي. په دې فعالیتونو کې د هغو پیښو په بې پلوه او خپلواک ډول څارنه چې ملکي خلک په کې تلف کیږي او یا ژوبلیږي او د مو جوده تمایلاتو تحلیل شاملیږي څو هغه شرایط تشخیص شی چې د ملکي خلکو د ژوند د تباهی سبب ګرځي.

د یوناما د بشري حقونو افسران (داخلي او نړیوال) چې په افغانستان کې کار کوي له ډیرو تخنیکونو څخه ګټه اخلي چې د مشخصو قضیو په باب معلومات راغونډ کړي.

له دې څخه وړاندې چې توضیحات په یوه خوندي ډیټابیس کې ثبت شي، د بشري حقونو د څیړنو د کارکوونکي د اتبار او باوریتوب په خاطر اطلاعات په وار وار د یو شمیر سرچینو په وړاندې تحلیل او کنټل کیږي. د ۲۰۰۹ د جنوري په میاشت کې یو بریښنایي ډیټابیس جوړ شو. دا ډیټابیس پدې موخه جوړ شوی څو د اطلاعاتو په راغونډولو او تحلیل او د عمر او جنسیت د....؟ دیو ځای کولو په شمول آسانتیاوې برابرې کړي دي . د کار د چاپیریال څخه د راپورته شویو محدودیتونو، لکه د ځینو عملیاتو د ګډ ماهیت او په یو شمیر زیاتو مواردو کې د ډول ډول پوځي فعالینو او یاغیانو ترمنځ د تشخیص او پیژندلو د ابتدایي سرچینې د بې کفایتی له امله، د یوناما د

بشري حقونو ځانګه دخاصو پېښو لپاره د دې مسوولیت حکومت پلوه ځواکونو یا حکومت ضد عناصرو ته منسوبوي. د یوناما د بشري حقونو ځانګه پدې راپور کې د وړاندې شویو احصایو د بشپړوالی ادعاء نه کوي، د کار د چاپیریال د محدودیتونو په نظر کې نیولو سره، کیدای شي وضیعت همدا شان وي او د یوناما د بشري حقونو ځانګه د ملکي کسانو تلفات کم وښیي.

د ملکي کسانو په اړه د یوناما د بشري حقونو معلومات په داخل او خارج کې امنیت شورا ته د ملګرو ملتونو د عمومي منشي، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړی استازی، یوناما، د ملګرو ملتونو د بیړنی امداد همغږي کوونکی، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر د دفتر او د ضرورت په وخت کې د ملګرو ملتونو د نورو میکانیزمونو له طریقه په عادي ډول وړاندې کیږي. د یوناما د بشري حقونو ځانګه د یو شمیر فعالینو سره یو ځای، د افغان چارواکو، نړیوالو پوځي ځواکونو او داسي نورو فعالینو په شمول چې موخه یې د نړیوالي بشرپالني د قانون او نړیوالو بشري حقونو د قانون د پیاوړي کولو سره اجابت دي، دفاع کوي. دا ځانګه همدارنګه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون، بشرپالني ټولني او مدني ټولني د غړو سره د ملکي کسانو د ساتني او یو شمیر فعالیتونو په اړه کوم چې د پوځي شخړو سره تړاو لري، برخه اخلي.

۲۰۰۹ کال د ملکي کسانو لپاره د پوځي شخړو په حواله د تلفاتو تر ټولو ستونزمن کال وه. په ۲۰۰۱ کې د طالبانو د رژیم د نسکوریدو راهیسي، د یوناما د بشري حقونو ځآنګې د ملکي کسانو د تلفاتو تر ټولو لوړ ارقام ثبت کړي دي. شخړې شدیدې شوي او اوس هغو سیمو ته هم غځیدلی چې پخوا نسبتا ارامې سیمې شمیرل کیدلې. د دې په نتیجه کې د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې شمیر او د ملکیت او عامه زیربناء خرابیدل او له منځه تلل زیات شوي دی چې په نتیجه کې یې د عایداتو سرچینی او معیشت ته تاوان رسیدلی. د پوځي مخالفینو له خوا د سیستماتیکو تخنیکونو کارول د ملکي کسانو د مخ پر زیاتیدونکو وژل کیدو او ټپي کیدو مهم لامل دی. د هوایي بریدونو په نتیجه کې او په ملکي سیمو کې د پوځي اډو ځای پر ځای کول د ملکي کسانو د وژل کیدو او ټپي کیدو د خطر امکانات زیاتوي. ملګري ملتونه د شخړو په ټولو ښکیلو خواوو غږ کوي څو د نړیوالي بشرپالني د قانون او نړیوال بشري حقونو د قانون لاندې د خپلو ژمنو ملاتړ او درناوي وکړي څو په ملکي کسانو د شخړو د اغیزو کچه راټیټه کړي.